عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۱۸

# اعلیحضرت محمد نادرشاه

دریمه برخه

## د اعلیحضرت محمد نادرشاه د قدرت کلونه:

نادرشاه د خپل قدرت په لنډه، څلورکلنه، دوره کي د دونه زیاتو سیاسي ستونزو سره مخامخ سو چي د افغانستان په تاریخ کي به لږ سیاسي مشران ورسره مخامخ سوي او بریالي ورڅخه وتلي وي. خو په دې لنډه او له ستونزو څخه ډکه دوره کي یې، لکه څرنګه چي د خپلي پاچهی د اعلانولو په لومړۍ ورځ ژمنه کړې وه، د ژورو اصلاحاتو د راوستلو له پروګرام څخه مخ وا نه ړاوه او په حقیقت کي یې د امان الله خان د دورې تقریبا ټول اصلاحات، خو یو څه په تدریجي ډول، تعقیب کړل. نادرشاه د خپلي پاچهی د اعلانولوپه ورځ په هغه لنډه اعلامیه کي، چي سنځل نوید د اصلاح د ورځپاڼي په حواله را نقل کړې ده، ښودلې ده چي هغه غواړي، په افغانستان کي،د نړۍ د نورو متمدنو هیوادونو د معیارونو سره سم، اصلاحات راولي .

نادرشاه په خپله لومړنی اعلامیه کي وویل « اوس چي خدای تعالی د افغانستان ملت د اغتشاش له اور څخه ژغورلی دی او د افغانستان ملت زه د پاچا په حیث انتخاب کړی یم؛ هیله لرم چي وروسته له دې به افغانستان د یوه مترقي او د اسلام اصولو ته د وفادار هیواد په حیث پاته سي. په اوس حالت کي هیواد تر بل هر وخت یوې صحیح اداري ته اړتیا لري. د حکومتي څانګو آمرین باید د ملت په مقابل کي خپل مسولیتونه درک کړي، څو لازم اصلاحات په اسانی او بې له اخلاله عملي سي. څکه نو د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو او دغه راز د هغو اصولو سره سم چي د نړۍ په متمدنو هیوادونو کي عملي کېږي لازمه بولم چي یو صدراعظم وټاکم او د کابینې د جوړولو وظیفه ورکړم. سنځل ص ۲۳۷

نادرشاه د قدرت د نیولو له لومړۍ ورځي څخه د وژل کېدلو تر شېبې پوري خپلو سیاسي مخالفینو بې غمه پرې نه ښود کنه نو هغه به د خپلو ملي آرمانونو د پوره کولو لپاره لا هم ډېر څه کړي وای.

حبیب الله کلکاني د ارګ د سقوط په وخت کي د شمالي دروازې د لاري وتښتېدی او څان یې چاریکار ته ورساوه. هغه او سید حسین غوښتل چي له هغه ځایه مقاومت پیل کړي او که د کابل تخت ونه نیسي نو لږترلږه د نادرخان سره جنګ او جنجال ته دوام ورکړي. نادرخان نه غوښتل، او ښایی کولای یې هم نه سوای، چي د خپلي پاچهی په لومړی ورځ یو بل جنګ پیل کړي نو څکه یې د دیني عالمانو او قومي مشرانو یوه جرګه حبیب الله ته ولېږله او له هغه سره یې ژمنه وکړه چي که حکومت ته

تسليم سي نو دی او د ده ملګري به ټول عفو سي. حبيب الله هم خپل ځان تسليم کړ. نادرشاه له هغه سره په لومړي سر کي ښه سلوک وکړ خو وروسته يې هغو کسانو ته تسليم کړ چي د سقاوي رژيم په وخت کي يې عزيزان وژل سوي او يا پخپله د حبيب الله په امر وژل سوي ول. هغوی ټولو د حبيب الله کلکاني او د هغه د ملګرو د اعدام غوښتنه وکړه او نادرشاه، هم له دې پلمې څخه په استفادې سره، حبيب الله او د هغه دوولس ملګري اعدام کړل. مورخين وايي چي نادرشاه په قرآن شريف قسم ورسره کړی او پخپله يې لاسليک کړی وو. آدمک ص ۱۸۲

نادرخان په خپل لومړني فرمان کي خپلو وزيرانو ته هدايت ورکړ چي ده د اداري فساد د له منځه وړلو فيصله کړې ده او هغه چا ته به چي رشوت اخلي او يا د حکومتي مقام څخه بده استفاده وکړي سخته سزا ورکړي. آدمک ص ۱۸۰

نادرخان له اداري فساد او د خلکو د کارونو د بېځايه ځنډولو يا کاغذ پرانی د مخنيوي لپاره د دفاع په وزارت کي د شکاياتو صندوق کښېښود. د کابل له اوسېدونکو څخه غوښتل سوي وه چي له حکومت سره د اداري فساد سره په مبارزه کي مرسته وکړي. مګر له حکومت سره د دې مستقيم تماس څخه پر چا باندي د ناحقه تور لګولو لپاره کار وانه خلي. شاه محمودخان ته د خلکو د شکايتونو د اورېدلو او د ضرورت په وخت کي د تحقيقاتو د کولو صلاحيت ورسپارل سوی وو. ګريګوريان ص ۲۹۹

د نادر شاه حکومت په لومړيو ورځو او شپو کي له سختو مشکلاتو سره مخامخ وو؛ خزانه خالي وه او د مالياتو د ټولولو لپاره يې هيڅ توان او قوت نه درلودی. ځوانانو د حکومت لپاره د پيسو غونډولو يوه کمېټه جوړه کړه. آدمک ص ص ۱۸۰-۸۱

هغو قومي پوځونو چي له نادرخان سره د کابل د نيولو لپاره يو ځای سوي ول، د سقاو له ماتي وروسته د قدرت له خلا څخه ګټه واخيسته او د کابل او شمالي له چورولو څخه وروسته په خپله مخه ولاړل. نادرشاه ځکه د هغوی مخه نه سوه نيولای چي نه يې منظم پوځي قوت درلود او نه يې د هغوی د خدمت په بدل کي پيسي په لاس کي لرلې. دا وخت له خنجان څخه هغه اته لس زره کسيز پوځ را ورسېدی چي د سيد حسين څخه پاته سوی وو. دا پوځي قوت د حربيې د وزير شاه محمود خان تر قيادت لاندي له پوځي قوې سره يو ځای سو. له هرات څخه عبدالرحيم خان کوهستاني، چي دا وخت د هغه ولايت ريس تنظيمه وو، نادرشاه ته بيعت را واستاوه او د هرات د خزاني څخه يې پيسې ورته را ولېږلې. مجددی ص ۵۱۲

کابل، د حبيب الله کلکاني د حکومت او داخلي جنګ او دغه راز د ايله جاري او قبايلي لښکرو د چور او تاړاک له امله، دونه خراب سوی وو چي حتی ارګ د شپې د تېرولو او دفتري کارونو وړ نه وو. نادرشاه د اوسېدلو لپاره، د فرقه مشر محمدهاشم خان کور غوره کړ او سلطنتي او اداري چارو لپاره يې د سردار فتح محمدخان کور انتخاب کړ. هغه کتاب ص ۵۰۷

فريزر ټيټلر ليکي چي هغه په خپله لنډه څلور کلنه دوره کي څرګند پرمختګونه وکړل. د قدرت په لنډه دوره کي يې څلوېښت زره کسيز پوځ جوړ کړ او يو شمېر ښورښونه يې کرار کړل. د هندوکش په غرونو کي يې سړک تېر کړ او د دولت عايدات يې هغي اندازې ته ورسول چي د امان الله خان په لس کلنه دوره کي نه وه رسېدلي؛ او د هيواد په لويو لارو کي يې داسي امنيت قايم کړ چي تر ده مخکي هيڅ وخت موجود نه وو. ټيټلر وايي چي برتانيي په ۱۹۳۱ کال کي لس زره توپک او ۱۸۰ زره پونډه نغده مرسته ورسره وکړه. دی وايي دا سخاوتمندانه مرسته وه مګر په دې پيسو په داسي يوه هيواد کي چي مساحت يې تر فرانسي زيات دی، او له سرکښو اولسونو څخه جوړ دی، د امنيت ټينګول او نيکمرغي راوستل اسانه کار نه دی. هغه له خارجي منابعو څخه نوره هيڅ مرسته ترلاسه نه کړه. ټيټلر ص ۲۳۱

لوستونکي چي دا کرښي لولي نو دا بايد ورپه زړه کړي چي يوازي امريکا، د ۲۰۰۲ کال راهيسي تر اوسه يعني ۲۰۱۷ کال پوري له افغانستان سره څه باندي سل زره ميليونه ډالره مرسته کړې ده، او په يوه وخت کي په افغانستان کي د امريکا او متحدينو د پوځي قواوو شمېر څه باندي يو سل او پنځوس زرو تنو ته ورسېدی. که له دې سره د ناټو او د امريکا د نورو متحدينو، غيرمتحدينو او عربي هيوادونو مالي مرستي په نظر کي ونيسو نو خبره ښايي تر يو سل او شل زرو ميليونو ډالرو واوړي. په

داسي حال کي چي اوس حاضر افغانستان په اداري فساد او د مخدره موادو په توليد کي، په نړۍ کي، دوهم او لومړی مقام لري او څه باندي لس کاله کېږي چي د کابل کندهار او کندهار هرات په څېر مهمو او حياتي لارو امنيت نه سي خوندي کولای؛ او، د پايتخت په شمول، په ښارونو او اولسواليو کي د چا سر او مال خوندي نه دی. د دې ارقامو په مقابل کي چي، څوک انکار ورڅخه کولای نه سي، هر ډول استدلال وکړو د عقل او معقوليت لاري به راباندي تړلي وي.

## د نادرشاه سياسي ستونزي:

د افغانستان په تاريخ کي به چنداني داسي مشر نه وي تېر سوی چي د نادرشاه په څېر، په تش لاس، د دومره زياتو سياسي ستونزو په غېږ ورغلی او بريالی ورڅخه وتلی وي.

مرحوم غبار ليکي په هغه ورځ چي نادرشاه د سلطنت اعلان وکړ، په هغه شپه، په دروازه لاهوري کي، د ده په کور کي د جوانان افغان د جمعيت ګوندي جلسه وه. غبار موږته نه وايي چي په دې جلسه کي څو تنو برخه درلوده خو هغو کسانو چي ګډون پکښي کړی وو د کابل نسبتا مشهور منورين ول. په دې جلسه کي غلام محی الدين آرتي وايي چي دا د انګرېزانو او هندوستانيانو دولت دی او هر څوک چي برخه پکښي اخلي هغه به خاين وي. غبار وايي چي د دې دولت د چپه کولو لپاره بايد لومړی سري او وروسته علني مبارزه وسي. تاج محمد پغماني وايي چي هر وطن پالونکی بايد د دې رژيم پر ضد مبارزه وکړي. فيض محمد باروت ساز هم د نادرخان رژيم د پرديو حکومت بولي او د هغه پر ضد د مبارزي او قيام بلنه ورکوي. عبدالرحمن لودين وايي چي د دې حکومت په کابينه کي بايد برخه وانه خيستله سي او پر حساساو چوکيو يي کار ونه سي خو يو څه انتظار بايد وايستل سي څو معلومه سي چي دا دولت بالاخره پر کومه ځي. د اسماعيل خان په نوم يو سړی هم په دې غونډه کي برخه لري. غبار ص ص ۳۸-۳۹ غبار نه وايي چي د دې يادي سوي ناستي په تعقيب يي بله غونډه هم وکړه کنه؛ خو مطلب يي دا دی چي د کابل منورينو د نادرخان سره دښمني درلوده او ټولو په يوه خوله او يوه زړه د امان الله خان د بيرته پاچا کېدلو غوښتنه کوله.

البته نادرشاه، د خپلي پاچهی په لومړيو مياشتو کي، يوازي د منورينو د بېځايه نفرت او دښمنی سره نه بلکه د خطرناکو عملي اقداماتو سره مخامخ سو.

د ۱۹۳۰ کال د جولای په نيمايي کي د امان الله خان طرفدارانو د کابل په شا وخوا کي غونډه وکړه او د رايو په اتفاق يي فيصله وکړه چي امان الله خان به بيرته پاچا کوي. دوی فيصله وکړه چي کوهدامنيان به په شمال کي د بخارايي مهاجرينو له مشر ابراهيم بيګ لقي سره تماسونه ټينګوي؛ هغه به په قطغن کي ښورښ کوي، کوهدامنيان به د کابل په شمالي سيمو کي ښورښ کوي او د امان الله خان طرفداران به کابل نيسي او سقاويان او خپل نور ملګري به خوشي کوي او محمدولي خان به د امان الله خان تر راتګ پوري د دولت د موقتي رييس په حيث ټاکي.

په دې شپو ورځو کي نادرشاه د مستوفي الممالک محمدحسين خان، چي امان الله خان د جناياتو او خيانتونو په ګناه اعدام کړی وو، ورور محمديوسف خان د کوهدامن حاکم مقرر کړی وو. محمديوسف خان، کوهدامن ته له رسېدلو سره سمدستي، له خپلو زړو سقاوي يارانو او لويو زميندارانو سره لاس يو کړ او د نادرشاه د چپه کولو دسيسه يي طرح کړه. له ده سره خپل مرستيال محمدعمرخان، د سقاو په وخت کي د قطغن او بدخشان نايب الحکومه، ميربابای چاريکاري، د سقاو په زمانه کي، د يو څه وخت لپاره، د کندهار نايب الحکومه عبدالقديرخان، د سقاوي رژيم د کابل مستوفي عبدالقيوم او ځيني نور زميندارن ملګري سول. د جولای د مياشتي پر دېرشمه ځينو حکومتي مامورينو د دفاع وزير ته رپوټ وکړ چي په کوهدامن کي وضع غير عادي ده. د دفاع وزير له محمديوسف خان څخه پوښتنه وکړه او هغه ورته ووېل چي هر څه آرام دي او خير خيريت دی. د همدې ورځي په سبا محمدعمرخان د حکومت پر يوه پوسته حمله وکړه او لاسته راوړي وسلې يي پر خپلو ملګرو ووېشلې. د دفاع وزير

جنرال عبدالوکیل خان له څلورو سوو عسکرو سره کوهدامن ته واستاوه او حاکم ته یې اطلاع ورکړه. حاکم چې مخکې له مخکې په مورچل کې ورته ناست وو، پر قوه یې حمله وکړه، او جنرال یې تېښې کړ. ټولې وسلې یې ونیولې او پر خپلو انډیوالانو یې ووېشلې. ښوربښیانو قلعه مراد بېګ او کلکان ونیول او د پغمان پر لور یې حرکت پیل کړ. نادرخان له میدان او ګردېز څخه پښتانه قبایل مرستې ته را وبلل او په اعلان یې کې یې ورته وویل چې زموږ یوازې د ښوربښیانو سرونه په کار دي مال او شته منې یې ټول په تاسو اړه لري. حکومت ته لا تقویتي قواوې نه وې رسېدلې چې د شمالي د ښوربښیانو شمېر پنځه ویشتو زرو تنو ته، چې دریمه برخه یې وسله وال ول، ورسېدی.

دې ښوربښ به لا ډېره خطرناکه بڼه اخیستې وای خو د ښوربښ په پیل کې د دوو مشرانو محمدعمرخان، چې یو غلجی پښتون وو، او اعظم خان، چې د شمالي تاجیک وو، پر رهبری او پاچهي باندې اختلاف پیدا سو. حکومت ته په دغه حساس وخت کې له وردګ، ګردېز، تګاو او نورو سیمو څخه څلور زره ملېشه ورسېدل. سره له هغه چې نادرخان په دغه وخت کې د سیاسي جنجالونو او بحران سره مخامخ سو او په نتیجه کې د کابل ښاروال عبدالرحمن لودین اعدام سو او د ملي شورا ځینې غړي ونیول سول، خو د شمالي د ښوربښ په ځپلو کې یې بری تر لاسه کړ. محمد اعظم خان قطغن او محمدعمرخان مشرقي ته وتښتېدی او هلته د اګست د میاشتې پر دوهمه ووژل سو.

نادرخان په یوه هفته کې ډېر خطرناک ښوربښ وځپی. په پایتخت کې یې تقریبا شپېته تنه د مخالفینو په نوم ونیول او ځینې یې په توپ کې والوزول. او شپاړس تنه یې د سقاو له زوی سره د همکاری کولو او نورو ګناهونو په تور غرغره کړل. بویکو ص ص ۳۲۱-۲۷

یوه بله ستونزه چې نادرخان ته د امان الله خان له وخته ورپاته وه هغه د شوروي اتحاد د کمونیستي رژیم څخه د مرکزي اسیا د مسلمانانو مهاجرین ول. د دې مهاجرینو یو مشر سیدعلم خان، د بخارا پرزېدلی پاچا وو، چې په کابل کې اوسېدی او بل یې د ایشان خلیفه قزل ایاق په نوم یو روحاني مشر وو، چې بېحده زیات شته من وو او بې حسابه رمې یې درلودلې. د اندخوی په سیمه کې د مهاجرینو یو بل مشر ابراهیم بېګ لقې وو چې کله کله به یې د شوروي په خاوره کې نظامي عملیات هم کول او ډېر زیات جنګیالي یې درلودل. د افغانستان حکومت له ابراهیم بېګ څخه څو ځله وغوښتل چې یا خپل هیواد ته ستون سي او یا د افغانستان تابعیت قبول کړي، حتی د یعقوب خان په مشری یو هیات یې ور واستاوه او د بلخ د ولایت د مرستیالی مقام یې هم ورته پېشنهاد کړ؛ مګر ابراهیم بېګ ، د کابل د حکومت په شرایطو،روغي جوړي ته حاضر نه سو. د یعقوب خان سره په هغه سفر کې دوه توپونه او څو ماشین دار ورسره وه. د هغه اصلي وظیفه په شمال کې د سولې ټینګول وه او د سقاوي رژیم د مامورینو او فعالینو سره یې چنداني غرض نه درلود. البته د امان الله خان ملګري یې سخت زورول او په تېره هغه کسان یې چې د غلام نبي خان چرخي په پوځي عملیاتو کې یې برخه اخیستې وه ویل چې تاسې زموږ لپاره د روسانو حیثیت لرئ او په تاسې اعتماد نه سي کېدلای.

د ۱۹۳۰ کال په منې کې ستونزه هغه وخت زیاته سوه چې نادرخان له ابراهیم بېګ څخه وغوښتل چې وسلې تسلیم کړي او خپل ملېشه منحل کړي. ابراهیم بېګ د کابل د حکومت دا غوښتنه ونه منله او مقاومت ته یې دوام ورکړ. د ۱۹۳۰ کال د ډسمبر په میاشت کې شاه محمود خان له یوه لوی لښکر سره د شمال خواته روان سو. له هغه سره په دې پوځي سفر کې د پکتیا ، وردګ او د مسعودو او ځدرانو قبایل ملګري ول. د دې لښکرکښی هدف په شمال کې د حکومت د مخالفینو او ابراهیم بېګ له منځه وړل ول. هغه کتاب ص ص ۳۳۴-۴۶

شوروي منابع وايي چې د شمالي سیمو ازبیکانو او تاجیکانو د ابراهیم بېګ مرستې ته، چې نور یې نو د نادرشاه له حکومت سره مخامخ مقابله پیل کړې وه، دوه زره پنځه سوه تنه جنګیالي واستول. د قطغن ازبیکو د ابراهیم بیګ سره د وسلو او جنګیالیو

مرستي کولي. او ابراهيم بيګ هم په ښکاره د پښتنو په مقابل کي د اوزبيکو د نفرت او دښمنۍ پارولو لپاره شپه او ورځ تبليغ کاوه. په قطغن او شاوخوا کي دونه سخت جنګونه وسول چي ابراهيم بيګ په ډېر افتخار سره ويل چي حکومتي قواوو ته يې دوه زره پنځه سوه تنه تلفات رسولي دي. دا رقم که څه هم چي له مبالغې څخه خالي نه دی، خو سری ويلای سي چي هلته بايد سخت جنګونه سوي وي... شوروي منابع، د سيمي د خلکو په حواله، وايي چي د ابراهيم بيګ سره ملګري باسماچيان په دې جنګونو کي ډېر شته من سول او د قدرت سيمي يې سره ووېشلې او نور يې نو د سيمي پر هغو خلکو چي له دوی سره يې مرستي کړي وې ظلمونه پيل کړل او د هغوی د لاس ډوډۍ يې ورڅخه واخيستله. د دوی د دغو اعمالو له کبله، د سيمي تاجيک او اوزبيک، چي دوی د هغوی په مرسته غښتلي او شته من سوي ول، د باسماچيانو پر ضد را پورته سول. رازهای سر به مهر ص ص ۱۰۸-۱۰۹

ترکمن، تاجيک او ازبيک مهاجرينو، چي شمېر يې په يو وخت کي يو ميليون تنو ته رسېدی، او د ابراهيم بيګ لقي په خبر په لس هاوو قوماندانان او جنګيالي يې درلودل، د افغانستان د خاوري تماميت تهديداوه او د پښتنو او نورو قومونو ترمنځ د جلاوالي او دښمنۍ سبب کېدی. د شمالي سيمو اوزبيکو او ترکمنو ابراهيم بيګ ته ويل چي ته غازي يې او چي هر څه دي زړه غواړي هغسي وکړه. د هاشم خان په خبرو او وعدو مه غولېږه، افغانان د اعتبار او باور خلک نه دي او له بلې خوا به يې نادرخان ته د ابراهيم بيګ په باره کي چغلی کولې او هغه ته به يې ويل چي ابراهيم بيګ د پاچهی خيال لري. هغه کتاب ص ص ۱۰۲-۱۰۳

د جون په مياشت کي يو ناڅاپه د شوروي سرو لښکرو، د باسماچيانو د ځپلو په منظور، د افغانستان پر خاوره باندي تېری وکړ او په علي آباد او آق تپه کي يې، چي شوروي مهاجرين يا باسمچيان پکښي اوسېدل، ډېری زياتي تباهی منځته راوړې او د باسمچيانو منابعو ويل چي په دې حمله کي تر زرو تنو پوري ووژل سول. ابراهيم بيګ لقي او د هغه قوماندانان، چي له شوروي لښکرو سره يې د مقاومت کولو توان نه درلود، د جنګ له سيمي څخه وتښتېدل. ص ۱۰۳

نادرخان هم د بخارا د پخواني او مهاجر پاچا عالم خان او هم د خپلو سريو په واسطه ابراهيم بيګ ته ليکونه او پيغامونه واستول او هغه يې کابل ته وباله او د وسلو د ايښودلو خواستونه يې ورته وکړل مګر ابراهيم بيګ بالاخره نادرخان ته په لېږلي پيغام کي وويل چي زه به خپلي وسلې او په تاجيکستان کي تر لاسه کړي وسلې د شوروي حکومت ته تسليم کړم خو تاسي ته به تسليم نه سم. نادرخان ته له جنګه پرته بله هيڅ چاره پاته نه سوه او د ۱۹۳۰ کال د جولای په مياشت کي د افغاني قواوو او ابراهيم بيګ ترمنځ نښتي پيل سوې. په لومړيو جنګونو کي افغاني قواوو ته درانه تلفات واوښتل او ډېري زياتي وسلې يې د ابراهيم بيګ د قواوو لاس ته ورغلې. د دې جنګونو لمن د بدخشان له ولايت څخه تر ميمني پوري پراخه سوه او د اکتوبر تر مياشتي پوري يې دوام وکړ.

نادرخان په دې جنګونو کي هم د وزيرو او مسعودو له لښکرو څخه ګټه واخيستله او په مقابل کي د شمالي سيمي تاجيکو او اوزبيکو هم له ابراهيم لقي سره مرستي کولې. ابراهيم لقي، چي د افغاني قواو سره يې د مخامخ جنګ کولو توان نه درلود، ګيريلايي حملو ته لاس واچاوه او افغاني قواو ته يې ډېر درانه تلفات واړول. نادرخان، چي نه يې په خزانه کي پيسي درلودلې او نه يې په قشلو کي وسلې، له انګرېزانو څخه د مالي او پوځي مرستي غوښتنه وکړه. انګرېزانو هغه ته لس زره توپک او ۱۴۰ زره پونډه مرسته ورکړه( دا رقم ۱۸۰۰۰۰ پونډه دی، ځکه چي انګرېزانو له نادر خان سره همدغه يو ځل مرسته کړې ده) او نادرخان خپل ورور سپه سالار شاه محمودخان د ډسمبر په مياشت کي، د وروستي او قاطع جنګ لپاره، واستاوه. ابراهيم بيګ لقي د ۱۹۳۱ کال د فبروري او مارچ د مياشتي په جنګونو کي تر سختو شکستونو وروسته نور د مقاومت توان نه درلود او د خپلو ملګرو سره د شوروي خاوري ته واوښت او ځان يې شوروي مقاماتو ته تسليم کړ. هغه کتاب ص ص ۱۰۵-۱۱۱

شوروي مقاماتو ابراهيم بیګ هم د څو تنو ملګرو سره اعدام کړ. د تاجیکستان یو ختیځ پېژندونکی س شاه خماروف د کابل د ملي آرشیف د موادو په حواله وایی چي نادرشاه پر ابراهیم بېګ باندي بری د کابل د فتحي په څېر مهم باله. بویکو ۳۵۱-

په دې کي هیڅ شک نسته چي نادرخان ته د دې جنګ ګټلو باید د کابل د فتحي په څېر اهمیت درلودلی وي. نادرخان د پاچهی له پیل څخه د ابراهیم بیګ له ستونزي سره مخا مخ وو. هغه مجبور وو چي دې ستونزي ته په هره طریقه چي کېږي خاتمه ورکړي. باسماچیان د شوروي اتحاد په سرحد کي اوسېدل او د نادرخان، نوي قدرت ته رسېدلي دولت، چي نه یي وسلي او نه یي پیسي درلودلي، د باسماچیانو چاره نه سوای کولای. پر باسماچیانو باندي، د افغانستان په خاوره کي، د شوروي حملي او د نادرخان چوپ پاته کېدل د هند په مسلمانانو او افغانستان کي د هغه د بدنامی سبب کېدی او په داخل کي یې سیاسي رقیبانو د هغه له دې بدنامی څخه ډېره ګټه اخیستله. دغه رازپر شوروي اتحاد باندي د افغانستان له خاوري څخه د باسماچیانو حملو شوروي مقاماتو ته پر افغانستان باندي د متقابلو حملو پلمه په لاس ورکوله.

له بلي خوا، شوروي مقاماتو، چي د نادرخان په مقابل کي یې د غلام نبي خان چرخي او امان الله خان څرګنده طرفداري کوله، له یوې خوا پر باسماچیانو باندي پوځي حملي کولي او له بلي خوا یې د افغانستان په شمال کي د نادرخان د حکومت د کمزوري ساتلو او په شمال کي د نادرخان د دایمي مصروف ساتلو په منظور له باسماچیانو سره پټي مرستي کولي. په خارجه وزارت کي د ختیځ د دریمي سیاسي څانګي رییس تسوکرمان د خارجه وزارت مرستیال قراخان ته ولیکل چي زه د ابراهیم بیګ په مقابل کي د خپل حکومت سلوک ډېر سخت خطرناک بولم. تسوکرمان لیکي چي که چېري موږ د افغانستان په شمال کي ښورښونو ته د بزګري تحریکونو په سترګه ګورو او غواړو د ابراهیم بیګ، ایشان خلیفه ، بچه جنید او نورو په واسطه د نادرشاه رژیم کمزوری کړو نو دا به مو ډېره ستره اشتباه وي؛ ځکه چي دوی د شوروي سستم دښمنان دي او غواړي د نادرخان د رژیم په کمزوري کولو سره د هغه هیواد په شمال کي داسي یوه سیمه لاسته راوړي چي له هغه ځایه پر مرکزي اسیا باندي حملي وکړي. تسوکرمان لیکي چي د ابراهیم بیګ په مقابل کي باید یوه ټاکلي برنامه ولرو، ځکه چي هغه به هم په مرکزي اسیا کي زموږ حکومت تهدید کړي او هم به د کابل د حکومت په مقابل کي بې اعتباره سو. بویکو ۳۴۶-۴۷

د نادرشاه حکومت، چي د ابراهیم بیګ د ځپلو لپاره یې نه ښې وسلي او نه مالي قوت درلود، په دې ګومان چي باسماچیان د شوروي او افغانستاتن د حکومتونو مشترک دښمنان دي، د شوروي له حکومت څخه جنګي الوتکي او وسلي وغوښتلي؛ مګر شوروي حکومت یې غوښتنه ونه منله. د افغانستان حکومت بالاخره له شوروي څخه وغوښتل چي لږترلږه هغه وسلي ورکړي چي د غلام نبي خان چرخي څخه د جون په میاشت کي شوروي قواوو ضبط کړي دي. شوروي دا غوښتنه هم ونه منله. هغه کتاب ۳۴۷

د بلي خوا ابراهیم بیګ لقي د نادرشاه له حکومت سره د اختلاف پیداکولو او په تېره بیا نظامي مقابلي له پیل کولو سره سم، نه یوازي د نادرشاه د حکومت بلکه په عمومي صورت د پښتنو پر ضد ځکه تبلیغاتو ته ملا تړلي وه چي نادرشاه د هغه په مقابل کي د وزیرو او مسعودو قبایل جنګ ته ایستلي ول. د ابراهیم بیګ دې تبلیغاتو، چي د افغانستان په خاوره کي یو بېګانه مهاجر وو، په نهایت کي خطرناک عواقب درلودل او په افغانستان کي یې د پښتنو او نورو قومونو ترمنځ د بدبینی او جلاوالي په راوستلو سره د عمومي قومي وېش او حتی د خاوري د جلا والي لپاره، زمینه برابرول ه .

نادرشاه بیا هم نه غوښتل چي د ابراهیم بیګ لقي سره جګړه وکړي او یا هغه له خپلي خاوري څخه ایستلو ته مجبور کړي. هغه یوازي غوښتل چي ابراهیم بیګ کابل ته راولي او د عالم خان په څېر په پایتخت کي و اوسېږي. کله چي ابراهیم بیګ په دغه برخه کي د نادرشاه ټولي مرکي رد کړي او حتی د نادرخان دا پیشنهاد یې چي هغه یې د مزار شریف د والي د مرستیال په حیث مقرر کړی وو ونه مانه. خو کله چي هغه د نادرخان د وسلو د تسلیمولو پیشنهاد هم قبول نه کړ او په شمال کي یې ځانته خودمختار حکومت جوړ کړ او له افغانستان څخه یې د شوروي پر خاوره باندي، چي افغانستان په هیڅ توګه له هغه سره د

دښمنۍ کولو توان نه درلود، حملو ته دوام ورکړ نو نادرشاه د ابراهیم بیګ په مقابل کې پوځي عملیاتو ته مجبور سو. ابراهیم بیګ د شوروي ترکمنستان د جمهوریت د خلکو قهرمان وو؛ خو په افغانستان کې هغه یو بېګانه مهاجر وو او افغانستان د شوروي اتحاد په څېر یوه قوي ګاونډي باندي د هغه د حملو له امله خطرونه نه سوای تحمل کولای.

شوروي اتحاد د نادرخان او د هغه د کورنۍ پر ضد، سره له هغه چي د نادرشاه رژیم یې په رسمیت هم پېژندلی وو، د دوهم نړۍ وال جنګ تر پایه پوري، له دسیسو څخه لاس وانه خیست. په ۱۹۳۰ کال کې، کمونیستي انټرنیشنل یا کمینترن، چي بودجه او پالیسي یې په مستقیمه توګه د شوروي د کمونیستي ګوند او حکومت له خوا رهبري کېدله، په افغانستان کې د حزب انقلابي خلق افغانستان په نوم یوه ګوند د جوړېدلو پیشنهاد وکړ. د دې ګوند د تبلیغاتي فعالیتونو لپاره باید د ایران د کمونیستانو څخه، چي په فارسي ژبه یې مواد برابرولای سوای، ګټه اخیستله سوې وای. تاریخي اسناد په افغانستان کې د دې ګوند دفعالیتونو او د اغېزې په باب چنداني څه نه وایي خو د شوروي اتحاد په آرشیفونو کې یې له خوندي سوي عمومي برنامې څخه ښکاري چي شوروي اتحاد د افغانستان په باب څومره شوم اغراض لرل. حزب انقلابي خلق افغانستان باید دا لاندي مرامونه پر مخ بېولي وای:

الف: د انګلیس د امپریالیزم په مقابل کې پراخه او پیګیره مبارزه.

ب: د افغانستان د مالیاتي نظام او د دولتي مامورینو او پولیسو د خپل سرو عملونو په مقابل کې مبارزه، د تاجرانو د مالونو، د ځمکه والو او لویو خانانو د جایدادونو مصادره کېدل او خواري کښنو بزګرو ته د هغوی مساویانه او عادلانه وېشل... ضمنا د مالیاتو د کمولو لپاره مبارزه او د ګروی او اجارې د قراردادونو فسخ کول، د ټولو باقیاتو بخښل او د ټولو مامورینو انتخابي کول او خپلو انتخاب کونکو ته مسوول کول.

پ: د افغانستان ټولو اوسېدونکو قبایلو او قومونو ته بېله استثنا په ټولو اقتصادي او سیاسي چارو کې مساوي ونډه ورکول او دغه راز د ځینو قبایلو او کورنیو د ټولو امتیازاتو لغو کول، د عمومي عفوې اعلانول او د ژبو برابري غوښتل.

ت: د افغانستان په باب د کمینترن بل هدف ( چي سرې یې تر ټولو بې شرمانه او زیانمنه مداخله بللای سي، جهاني) دا دی چي له افغانستان سره دي ټولي هغه سیمي چي په آزاد سرحد کې څلور میلیونه انسانان پکښې اوسېږي، یو ځای سي، او په عین حال کې دي د افغانستان د شمال اوسېدونکو تاجیکانو،اوزبیکانو، ترکمنانو او نورو ته د سرنوشت د ټاکلو بشپړ حق ورکړه سي. د کمینترن د ا ورستی برخه د هغه د ترتیبونکو اصلي ستراتیژیکه غوښتنه څرګندوي. دې ټکي ته په توجه سره چي په افغانستان کي ریښتوني ازادي یوازي د نادرخان د رژیم په مقابل کې په ټول هیواد کې د ملي قیام له لاري تر لاسه کېدلای سي، د حزب انقلابي خلق افغانستان وروستنی هدف د نادرخان د حکومت نسکورول او د خلکو د مستقل جمهوریت ټینګول دي. په دې برخه کې پر دې ټکي ټینګار سوی وو چي دا کار باید د امپریالیزم او فیوډالیزم په مقابل کې د هند د پرولتاریا او بزګرانو د بریالي انقلاب سره په ارتباط کې سرته ورسېږي. هغه کتاب ص ص ۳۶۰-۳۶۱

په افغانستان کې د ښورښ د پیل لپاره د ۱۹۳۱ کال منی په نظر کې نیول سوی وو. د امان الله خان طرفداران په خپل بري باوري ول او حتی یو ځل خو امیر امان الله خان د هماغه کال د سپتمبر پر یودېرشمه نادرشاه ته یو ټلګرام واستاوه او په هغه کي یې ورته ولیکل چي نور بس دی پورته سه او د ملکه ووزه. زه ډېر قوت لرم. د بېګناه خلکو وینې په ناحقه مه تویوه. هغه کتاب ص ۳۶۵

امان الله خان د خپلو سیاسي فعالیتونو لپاره اصلي مرکز د آزاد سرحد قبایل ټاکلي ول، او په هغه سیمه کي یې پرله پسې تبلیغات کول. داچي په قبایلو کې د عام ښورښ او پر افغانستان باندي د را ماتېدلو په صورت کې به څه پېښ سوي وای سړی څه نه سي ویلای؛ خو په عمومي صورت دونه ویلای سي چي قبایل په هیڅ صورت د باور قوه نه ده. قبایل د یوه ټاکلي هدف لپاره تر یوه

ټاکلي وخت پورې سره يو ځای کېږي او په هغه صورت کې هم هر ګړی خپلو کټو ته ګوري. قبایل پر ملي ګټو او ملي او سیاسي شعارونو او هدفونو باندې عقیده نه لري. که د هغوی تر منځ کله اتحاد او یووالی راتللای سي نو هغه به یوازې مذهبي انګېزه او هغه هم د یوه منل سوي او پېژندل سوي مذهبي یا روحاني مشر تر رهبری لاندې وي، چې تر یو وخته پورې دوام کولای سي. حتی کله کله خو د مذهبي جذبي او جهاد په وخت کې هم میدان پرېږدي او په قبایلي ګټو پسې روانېږي. د سیکهانو پرضد، د سید احمد بریلوي د جهاد په ترڅ کې یوسفزي ښادي خان، چې په لومړي سر کې یې سید احمد بریلوي ته د مرستې لاس اوږد کړی وو، د خپل مذهبي دښمن رنجیت سینګه سره لاس یو کړ او د سید احمد پر لښکرو یې حمله وکړه. دغه راز سردار یارمحمدخان د سید احند بریلوي پر ضد د رنجیت سینګه سره یو ځای سو. دغه راز د سوات د اخوند صاحب او انګرېزانو تر منځ د امبالې په جنګ کې، چې ښایي له قبایلو سره د انګرېزانو تر ټولو پراخ او دوامداره جنګ به وو، ځیني پښتانه خانان د جنګ په جریان کې پر شا سول او له انګرېزانو سره یې خبرې پیل کړې.

همدغه آزاد قبایل لږه موده مخکې د امان الله خان د اصلاحاتو پر ضد پاڅېدلي او جنګېدلي ول. وروسته یې د نادرخان ملاتړ کړی وو او یو کال وروسته بیرته د نادرخان په مقابل کې یوه بل پاڅون ته تیارېدل. که یې پاڅون په ریښتیا هم بریالی سوی وای نو یوازې به یې کابل او شاوخوا سیمې چور کړې وای او بیرته به په خپله مخه تللای او د یوه بل ښورښ او یوه بل چور په انتظار به کښېنستلای. د دې یو اساسي علت دادی چې قبایل په خپلو سیمو کې د خپلو تربرونو او نورو قبایلو سره د وینو دښمنۍ او د مځکو او څړځایونو پر سر ډېر زاړه اختلافات لري او د دوی لپاره تر بل هر کار د دغو دښمنیو فیصله کول ضروري او اړین دي. که د دې دښمنیو د پوره کولو لپاره د جنګ په ترڅ کې پر شا سي هم کېدلای سي او که د جنګ څخه مخکې پر شا سي هم یې امکان موجود دی. د افغانستان په تاریخ کې د قومي مشرانو د جبهو د هر ګړی او څو ځله تبدیلولو پېښې دونه ډېرې دي چې د دې هیواد د تاریخ یو اوږد او غم لړلی فصل ور جوړوي.

پخپله نادرخان هم د قبایلو د مذهبي جذبي څخه په وېره کې وو او د ۱۹۳۰ کال د سپتمبر په میاشت کې یې د برتانیې د استازي ریچارډ میکوناچي سره په خبرو کې اندېښنه ښودلې وه. نادرشاه میکوناچي ته وویل چې د امان الله خان د بیرته پاچا کېدلو یوازینی چانس دا دی چې د برتانوي هند په مقابل کې د جهاد جنډې پورته کړي او د جهاد رهبري پر غاړه واخلي. په هغه صورت کې به د ده لپاره ګرانه وي چې مقاومت ورسره وکړي او چې هره لاره واخلي نسکورېدل به یې حتمي وي. په هغه صورت کې به افغانستان یو کمزوری هیواد سي چې د دوو لویو قدرتونو ترمنځ به د حایلي سیمې رول نه سي لوبولای او ډېره بده به دا وي چې امان الله خان به د روسانو ګوډاګی سي. تیخانوف ص ۲۵۴

مخکې له هغه چې امان الله خان د نادرخان په مقابل کې له مذهبي وسیلې څخه کار واخلي، نادرخان واری دمخه کړ او د ۱۹۳۲ کال په سر کې یې خپل دواړه وروڼه شاه محمود خان او محمدهاشم خان قبایلو ته ولېږل او هغوی د روحانیونو او لویو ملایانو په واسطه قبایلي خلکو ته قناعت ورکاوه او د امان الله خان له ملګرتیا څخه یې را ګرځول .

که څه هم چې له نادرخان سره چنداني پیسې نه وې، چې قبایلي مشرانو ته یې په رشوتونو کې ورکړې وای خو دولتي قدرت پخپله ډېره لویه وسیله ده او هغه وکړای سوای چې ځینو کسانو ته د مالیاتو د معافولو، ځینو ته د مځکو د بخښلو او ځینو ته د منصبونو د ورکولو له لارې قانع کړي او د امان الله خان له ملګرتوب څخه یې را وګرځوي. نادرخان په دې توګه د یوه لوی قبایلي بحران، چې د ده قدرت یې تهدیداوه مخه ونیوله او ثبات یې قایم کړ. هغه کتاب ۲۵۵

د امان الله خان د طرفدارانو زړونه هغه وخت پوره سول چې غلام نبي خان چرخي د ۱۹۳۲ کال د اکتوبر پر دیارلسمه له انقرې څخه کابل ته ورسېدی. نادرشاه له هغه سره وکتل او هغه ته یې پېشنهاد وکړ چې که له سیاسي فعالیت څخه لاس واخلي نو په استانبول کې به د سفیر تنخوا ورته مقرره کړي. د هغه ورور غلام صدیق خان به په برلین کې د سفارت پر چوکۍ پرېږدي او

دغه راز به یې بل ورور غلام جیلاني خان هم د سفیر په حیث مقرر کړي. غلام نبي خان ژمنه وکړه چې د دې پېشنهادونو په باب به غور وکړي. مګر په عمل کې یې سمدستي خپلو سیاسي فعالیتونو ته زور ورکړ. هغه کتاب ص ۳۶۶

افغانستان ته د غلام نبي خان له رسېدلو سره، د امان الله خان طرفدارانو، د سرحد له قبایلو سره، د نادرخان پر ضد د یوه وسله وال قیام لپاره تماسونه ټینګ کړل او ډېر زیات کسان یې قیام ته تیار کړل. د وزیرو قبایلو د نادرخان له دښمنانو سره یوه موافقه لاسلیک کړه چې د هغې په اساس به د کابل د نیولو په صورت کې دوی ته اته سوه زره افغانۍ او د کابل د خزانې د چورولو اجازه ورکوله کېدله. تیخانوف ص ۲۵۶-۵۷

نادرشاه، د خپلو فعالو استخباراتو له لارې، د غلام نبي خان او د امان الله خان د طرفدارانو له ټولو فعالیتونو څخه خبر وو او د هغه د پلانونو د عملي کېدلو د مخنیوي لپاره یې لازم تدابیر نیولي ول.

انګرېزانو هم په صوبه سرحد کې د غلام نبي خان د فعالیتونو د څارلو لپاره بشپړ ترتیبات نیولي ول. هغوی په دې خبر ول چې د امان الله خان د طرفدارانو د قیام اصلي قوه د آزاد سرحد پښتني قبایل دي. په کابل کې د شوروي سفارت پوځي آتشه رپوټ ورکړ چې په پېښور کې  د انګرېزانو پوځي قطعات د تیارسۍ په حالت کې دي؛ او ځیني قواوي یې د افغانستان او برتانوي هند پولو ته استولي وې .

نادرخان او د هغه انګلیسي متحدینو په دې برخه کې کافي اسناد او شواهد په لاس کې لرل. د شوروي استخباراتي اسناد ښیي چې باید افغانستان ته د غلام نبي خان د رسېدلو سره سم، د خوګیانیو قبیلې د ملک قیس په مشرۍ بنوربش پیل کړی وای، مګر نادر خان د خپلو استخباراتو په زور د هغه مخه ونیوله او غلام نبي خان کابل ته راغی.

ډېر زیات ډیپلوماټان د غلام نبي خان دې خطرناک حرکت ته حیران ول او حتی د شوروي سفیر ستارک په ارګ کې په یوه مېلمستیا کې له غلام نبي خان څخه په ډېر احتیاط د هغه د پروګرامونو په باره کې پوښتنه وکړه. غلام نبي خان ورته وویل چې د کار لپاره راغلی دی او حکومت، د قبایلو له وېرې، د هغه په مقابل کې د عمل کولو جرأت نه لري. ستارک د شوروي سفارت ته په خپل رپوټ کې ولیکل چې غلام نبي خان، د نادرخان په مقابل کې د پاڅون لپاره، ولایاتو ته خپل سړي او لیکونه استولي دي، او دا کار په ډېره بې احتیاطي کوي. ډېر زیات کسان چې د ده پیغامونه او لیکونه رسوي د نادرخان د استخباراتو سړي دي؛ او د نادرخان حکومت د غلام نبي خان په ټولو فعالیتونو پوره خبر دی. هغه کتاب ص ص ۲۵۸-۲۵۹

د شوروي اتحاد د حکومت ټولي څانګې د افغانستان په چارو کې د مداخلې او د امان الله خان د طرفدرانو د ملاتړ په برخه کې په یوه نظر نه وې. د شوروي اتحاد استخبارات او د ګوند په رهبرۍ کې ځیني کسان د شوروي د عاجلو اقداماتو پر خوا ول مګر خارجه وزارت د شوروي عملیاتو ته خوشبین نه وو. د خارجه وزارت یو عالي رتبه مامور تسوکرمان د خارجه وزارت مرستیال لیونید قراخان ته په یوه یاداشت کې لیکلي وه چې هر څوک چې داسې ګومان کوي چې په نیژدې راتلونکي کې به د نادرخان پر ځای زموږ یو طرفدار، چې زموږ به په ګټه وي، په کابل کې قدرت ته ورسېږي، اشتباه کوي. ځکه چې په اوسنیو شرایطو کې د نادرخان پر ځای د امان الله خان منځته راتلل ؟په افغانستان کې د قواوو تناسب خرابوي او انګرېزان ښایي داسې مداخله وکړي چې خپل یو ګوډاګی به قدرت ته ورسوي. د نادر خان له پرزېدلو سره به په افغانستان کې قومي او قبیلوي جنګونه پیل سي چې ټول هیواد به ټوټې ټوټې سي او په هره سیمه کې به یو پاچا ناست وي. په افغانستان کې د اوضاع دغه راز خرابېدل به انګلیسانو ته دا فرصت په لاس ورکړي چې د منځنۍ اسیا په هیوادونو کې به د مداخلې کولو لپاره ډېرې لارې ورته خلاصې سي او موږ به مجبور یو چې د خپلو پولو د ساتلو لپاره زیات پوځي اقدامات وکړو. بویکو ص ص ۳۵۵-۵۶

نادرشاه، د غلام نبي خان د فعالیتونو د شنډولو لپاره، خپل ورور شاه محمود خان، چې د جنوبي په پښتني قبایلو کې یې زیات نفوذ درلودی، هغې سیمې ته واستاوه. هغه ته ډېر ژر معلومه سوه چې غلام نبي خان په پښتني قبایلو کې په خطرناکو فعالیتونو

بوخت دی او د نادر خان پر ضد ډېر زيات خلک پارېدلي دي. شاه محمودخان په دې پوهېدی چي قبايل د پوځي مهماتو له کمبود سره مخامخ دي نو يو چل يې وکړ او هغه دا چي، د پوځي مهماتو په نوم، يو کاروان يې خوست ته واستاوه. پښتني قبايلو پر هغه باندي حمله وکړه خو وروسته ورته معلومه سوه چي ټول صندوقونه له ډبرو او شګو ډک دي. په دې توګه شاه محمود خان خپل ځان د قبايلو په نيت خبر کړ او نادرشاه ته يې د غلام نبي خان د دسيسو په باب اطلاع ورکړه.

د شوروي سفارت پوځي آتشه واسيلييف حکومت ته په خپل رپوټ کي ليکي چي د ورځي د نيمايي په شاوخوا کي د نادرشاه يو ياور د غلام نبي خان کورته ورغی او هغه ته يې وويل چي پاچا د هوا خوری لپاره دباندي وزي او ته يې بللی يې. کله چي غلام نبي خان ارګ ته ورغی نادرخان د ارګ له برنډې څخه په ښکنځلو او بد ويلو بنا وکړه. غلام نبي خان په پوره زړه ورتوب جواب ورکړ او نادرشاه هم هيڅ رحم ورباندي ونه کړ. عسکرو ته يې امر وکړ چي د توپکوپه قنداقونو يې ووهي. هغه کتاب ص ص ۲۵۹-۲۶۰

نادرخان د غلام نبي خان چرخي د اعدامولو سره، د مطلقه شاهي له رسم او عادت سره سم، د چرخي کورنی او د امان الله خان نور طرفداران په زبردستی سره وځپل او پر چا باندي يې چنداني رحم ونه کړ. د دې کورنی څو تنه نور غرغره سول. د چرخي د کورنی ډېر زيات کسان بنديخانو ته واستول سول، چي څو تنه يې هلته وفات سول. او ډېر زيات يې تر ډېرو کلونو پوري د بنديخانو شومه سول. بويکو ص ۳۶۸

شاه محمود خان له پنځه لسو زرو عسکرو سره د جنوبي خواته خوځېدلی وو او د غلام نبي خان د طرفدارو ځدرانو خانانو د اېلولو او رانيولو لپاره يې څه د پاسه پنځه ميليونه افغانی په رشوتونو ولګولي، مګر بيا هم وضع کراره نه سوه خو کله چي هغوی د غلام نبي خان له وژل کېدلو څخه خبر سول نو له مقاومته يې لاس واخيست، مګر شاه محمود خان د ښورښيانو په نيولو بريالی نه سو او هغوی د وزيريستان سيمي ته ولاړل. له دې پېښو سره يو ځای د خوګيانيو مشهور مشر ملک قيس، چي د علي احمدخان د نيولو لپاره يې له سقاو څخه اووه لس زره روپۍ اخيستي وې، د نادرخان د غوښتني په خلاف کابل ته ورتللو ته حاضر نه سو او نادرخان ته يې جواب واستاوه چي دی غلام نبي خان نه دی چي پر خپلو پښو به دار ته تسليمېږي. ويل کېږي چي د خوګيانيو مشر پنځه ويشت زره وسله وال سړي، وسلې او توپونه درلودل او له هغه سره په داسي حال کي چي نادرخان نوري زياتي ستونزي درلودلې مخامخ مقابله ګران کار وو؛ او نادرخان دا موضوع بل فرصت ته پرېښودله. تيخانوف ص ص ۲۶۱-۶۲

نادرخان او د هغه کورنی ته د شوربازار د حضرتانو دسيسي، چي هم د اما ن الله خان د سلطنت د پرزېدلو يو لوی عامل سو او هم يې د سقاوي رژيم په مقابل کي پټي اوښکاره توطيي کولي، يوه بله لويه ستونزه وه. فضل عمر مجددي، چي په وطن کي په شېرآقا مشهور وو، او د امان الله حان په مقابل کي يې له ديني علماوو څخه د کفر فتواوي را غونډي کړي وې؛ د اعيحضرت امان الله خان د تخت د بيرته نيولو په جنګونو کي ميدان ته داخل سو او د غزني په شاوخوا سيمه کي يې د هغه پر ضد غلجي قبايل حملو ته وهڅول. امان الله خان بالاخره د جنګ ميدان پرېښود او حضرت د نادرخان ملاتړ وکړ. نادرشاه هم، چي د حضرتانو، روحانيونو او ديني عالمانو په زور پوهېدی، نه يوازي نورو ديني عالمانو ته امتيازات ورکړل او د امان الله خان ځيني اصلاحات يې لغو کړل؛ شېر آقا يې د عدليې د وزير او د علماوو د شورا د رييس په حيث مقرر کړ. حضرت، ډېر ژر، د نادرخان په مقابل کي دسيسي پيل کړې؛ ښايي ده به نور داسي امتيازات غوښتل چي نادرخان به نه سوای ورکولای او يا يې لا ښايي پخپله د پاچهی خيال په سر کي وو؛ ځکه چي که سقاو پاچاهي کولای سوای نو دی تر چا پاته وو. حضرت هم د سقاو او هم د امان الله خان له ځينو ملګرو سره تماسونه ټينګ کړل او د امان الله خان ملګرو خو ورته وويل چي که امان الله خان قدرت ته ورسېدی نو دی به په هغه نظام کي د عدليې وزير وي او د شيخ الاسلام لقب او امتيازات به ولري، او چي دی يې غواړي په هغه اندازه صلاحيتونه او واک به ورکړي. ويل کېږي چي امان الله خان هغه ته په يوه پيغام کي ويلي وه چي حاضر دی خپله

یوه خور هغه ته په نکاح کړي. شېرآقا په خپلو دسيسو کي له دونه بې شرمۍ څخه کار واخيست چي د شوروي له سفارت سره يې هم د تماسونو د ټينګولو او مذاکراتو کوښښونه وکړل. د شوروي اتحاد سفيرليونيد ستارک د شوروي خارجه وزارت ته وليکل چي شېرآقا د متحدينو د پيدا کولو په لټه کي کوښښ وکړ چي حتی زموږ سره خبري پيل کړي، مګر موږ د هغه غوښتنه رد کړه.
بويکو ص ص ۳۱۵-۳۱۶

**** **** ****

اعليحضرت محمد نادرشاه (دريمه برخه)
jahani_a_bahari_s_m_moh_nadershah_۳.pdf

قسمت های اول و دوم این نوشته را با کلیکی بر لینک های زیر مطالعه می توانید

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahri_s_m_moh_nadershah_۱.pdf
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/jahani_a_bahri_s_m_moh_nadershah_۲.pdf